# د امریکا ولسمشریزو ټاکنو پایلې او پر افغان سوله یې اغېزې

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز - کابل

**تحلیل CSRS | شماره: ۳۵۹**

25 عقرب ۱۳۹۹ هـ ش / 15 November 2020


ویبسایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت انکشاف مطالب این نشریه به این آدرس ها با ما شریک سازید:

ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


---


لومړی تحلیل

دویم تحلیل

# د امریکا ولسمشریزو ټاکنو پایلې او پر افغان سوله يې اغېزې



د نومبر په دریمه نېټه په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې په داسې حال کې ترسره شوې چې لا هم د ټاکنو پایلې د دولس ورځو تېرېدو سربېره هم په رسمي توګه نه دي اعلان شوي. که څه هم د لومړنیو شمېرو له مخې لیدل کېږي چې د ډیموکرات ګوند کاندید جو بایډن د خپل سیال ولسمشر ډانلډ ټرمپ څخه زیاتې رایې ترلاسه کړي دي، مګر ولسمشر ټرمپ بیا د پایلو نه منلو ګواښ کوي چې ګواکې په لویه کچه درغلي شوې ده. او په دې توګه د ټاکنو پایلو په سر دا جنجالونه په داسې حال کې روان دي چې لا هم په ځینو ځایونو کې د رایو شمېرنه روانه ده او د ټاکنو وروستۍ پایله نه ده اعلان شوې. دا چې د امریکا ولسمشریزې ټاکنې چې جو بایډن پکې بریالی ښکاري پر افغان سوله به څه اغېزې ولري په دې تحلیل کې مو پرې شننه کړې ده.

Center for Strategic and Regional Studies

## ټرمپ او بایډن

د 2020 کال ولسمشریزو ټاکنو کې د جمهوریت پال ګوند څخه ولسمشر ټرمپ او د ډیموکرات ګوند څخه جو بایډن د مخکښو کاندیدانو په توګه تر ټولو یوه داسې سخته ټاکنیزه سیالي ترسره کړه چې د بریالي کاندید اټکل یې د سیاسي تحلیل ګرانو لپاره ناشونی کړی وو. په یادو ټاکنو کې 65سلنه هغو امریکایي وګړو ګډون درلود چې د رایې ورکولو حق یې درلود او دا کچه د 1900 م کال وروسته تر ټولو لویه کچه ګډون وو چې په ټاکنو کې ترسره شو.

په امریکا کې د بې کارۍ کچې زیاتېدل، کرونا وایروس بابیزه ګڼل، د نړۍ نورو هېوادونو سره سوداګري او د (America First) یا د (لومړی امریکا) پالیسي بنایي د ډونالډ ټرمپ لپاره هغه ستونزې وې چې د زیاترو امریکایانو رایې د نوموړي څخه د جو بایډن په ګټه تمامې کړې. کرونا

وایروس چې د 242 زره څخه زیات امریکایي وګړي یې ووژل او تر دې چې د نومبر په دویمه نېټه په خپله ولسمشر ټرمپ او د هغې مېرمن په یاد  وایروس په داسې حال کې اخته شول چې له دې وړاندې ولسمشر ټرمپ کرونا وایروس یو عادي وایروس ګڼلی وو. د (ABC News) په یو شمېرنه کې 72 سلنه امریکایي وګړو انګېرلې وه چې ښاغلي ټرمپ د کرونا وایروس جدي موضوع په توګه نه ده نیولې. بله ستونزه چې د (America First) پالیسي وه چې امریکا یې د نورې نړۍ څخه لرې کړه او د نړۍ په کچه یې د امریکا نوم ته پراخه زیان ورساوه. جو بایډن د خپل ټاکنیز کمپاین په وخت کې دا په ډاګه کړې وه چې نوموړی به له دې پالیسي څخه تېرېږي او د نړۍ نورو هېوادونو ترڅنګ د امریکا ملاتړو هېوادونو سره به خپلې اړیکې نورې هم نږدې کوي.

دا چې ولسمشر ټرمپ ادعا کوي چې په ټاکنو کې په پراخه کچه درغلي شوې او نوموړی څرګندوي چې د ټاکنو شمېرلو سیستم څخه هغه 2.7 میلونه رایې چې د نوموړي په ګټه کارول شوې وې پاکې شوي دي. د نومبر په 14 نېټه د کرونا وایروس په اړه یو خبري کنفرانس ته ټرمپ څرګنده کړه چې راتلونکې اداره به د کرونا وایروس په برخه کې کوم ډول ګامونه پورته کوي د راتلونکې ادارې په تړاو د ټرمپ څرګندونې ښیي چې ښاغلي ټرمپ په ضمني توګه ماته منلې.[1] خو بلخوا د ټاکنیز سیستم او سایبرسیکیورټي ادارو پر وینا د امریکا په تاریخ کې تر ټولو ښې او شفافې ټاکنې ترسره شوې دي او په دې تړاو د ښاغلي ټرمپ ټولې ادعاوې ناسمې بولي.[2]

## بایډن د امریکا او نړۍ لپاره

د ښاغلي بایډن لپاره به په داخل د امریکا کې تر ټولو سخته ننګونه د کوویډ 19 سره مبارزه وي چې تر دې مهاله شاوخوا 10.7 میلونه امریکایان پرې اخته شوي دي.[3] له دې پرته د بې کارۍ کچې راښکته کول به بله هغه ستونزه وي چې د کرونا وایروس زیاتېدو سره د ښاغلي بایډن لپاره بله ننګونه جوړولی شي.

په بهرني سیاست کې ښاغلي بایډن په ډاګه کړې چې د پاریس اقلیم بدلون له هغې هوکړې سره به یو ځای شي چې د ښاغلي ټرمپ واکمنۍ پر مهال ترې امریکا وتلې وه. چې د نړۍ اقلیمي بدلون په برخه کې یو ښه پرمختګ کېدلی شي.

جو بایډن چې د ایران سره د ښاغلي ټرمپ پر سیاست یې مخالفت درلود د ټاکنیز کمپاین پر مهال په ډاګه کړې چې نوموړی به د ایران سره د 2015 م کال اتومي هوکړې ته بېرته ورستون شي. د نوموړي په آند پخواني ولسمشر ټرمپ پر ایران ناوړه فشار وارد کړی وو او نوموړی غواړي په یوې داسې

[1] https://www.bbc.com/pashto/world-54941622
[2] https://www.nytimes.com/2020/11/12/us/politics/election-officials-contradict-trump.html
[3] https://www.worldometers.info/coronavirus/country/us/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

ستراتیژۍ کار وکړي چې په منځني ختیځ کې د امریکا ګټې خوندي کړي.[4] د ایران ولسمشر حسن روحاني بیا د نویو ټاکنو پایلو ته خوښي ښودلې او هیله یې څرګنده کړې ده چې په امریکا کې نوی دولت به د شته فرصتونو څخه د تېرو تېروتنو د جبران لپاره ښه ګټه پورته کړي. مګر د ایران لپاره د امریکا دغه شین څراغ ښایي د عرب هېوادونو د ناخوښۍ سبب وګرځي چې دا کار بیا د سیمې د امنیت لپاره ښایي نوې پایلې ولري.

د کشمیر موضوع چې پاکستان او هند ترمنځ اوږدې مودې راهیسې جنجالي موضوع ده، او ټرمپ یې په اړه د منځګړیتوب څرګندونې درلودې، بایډن بیا څرګنده کړې چې هلته په لړکیو ظلم روان دی او د یادې ستونزې حل کولو په برخه کې به کار کوي. همدا لامل دی چې پاکستاني چارواکي د بایډن راتګ سره هیله مندي ښیي او د هغوی په آند پاکستان به هڅه وکوي ترڅو د امریکا نوې ادارې ملاتړ د کشمیر په موضوع کې ترلاسه کړي.

په بهرني سیاست کې د ښاغلي بایډن لپاره به د چین سره د سیاسي او سوداګریزو اړیکو رغول لویه ستونزه او ننګونه وي. که څه هم چین حکومت د نورو هېوادونو په پرتله د اوږده ځنډ وروسته د بایډن اټکلي بریا ته په کتو نوموړي ته مبارکي ویلې ده.

د روسیې حکومت بیا تر دې مهاله هیڅ کوم کاندید ته د مبارکۍ پیغام نه دی لېږلی او ټینګار کوي چې رسمي پایلو ته دې انتظار وویستل شي دا په داسې حال کې ده چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین لومړنی تن وو چې په 2016 کال کې یې ولسمشر ټرمپ بریا پر مهال د مبارکۍ پیغام استولی وو. او بایډن موده وړاندې پر روسیې تور لګولی وو چې تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې یې لاسوهنه کړې وه. د روسیې او امریکا اټکل شوې نوې ادارې چې بایډن به یې مشري کوي ترمنځ دغه واټن کولی شي د دواړو هېوادونو اړیکو او د سیمې روان وضعیت لپاره یو ښه خبر و نه اوسي.

## بایډن د افغانستان لپاره

بایډن چې د 2009 څخه تر 2017 کال پورې د ولسمشر اوباما ولسمشرۍ پر مهال د امریکا مرستیال ولسمشر پاتې شوی د افغانستان حالاتو په اړه له نږدې معلومات لري او د افغانستان مختلفو سیمو ته یې سفرونه ترسره کړي دي.

د2001 لومړي کال سپټمبر 11 نېټې پېښو وروسته چې امریکا د جوبایډن مرستیال ولسمشرۍ پر مهال په افغانستان او عراق باندې حملې ترسره کړې. په داسې حال کې چې پر عراق د حملې کولو سره ښاغلي بایډن خپل مخالفت څرګند کړی وو.

په ۲۰۱۲ کال کې د CNN سره په یوه ځانګړې مرکه کې بایډن ویلي وو چې امریکا باید له افغانستان

[4] https://www.aljazeera.com/news/2020/11/8/what-will-a-biden-presidency-mean-for-iran

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul

 څخه تر 2014 کال پورې خپل ټول فوځیان وباسي . د نوموړي پر آند امریکا یوازې د القاعدې مرکزیت ختمولو لپاره پر افغانستان حمله وکړه او دا چې هلته القاعده ځواک تر ډېره کمزوری شوی نو د افغانستان امنیت د افغان ځواکونو مسؤلیت دی او امریکا نوره نه غواړي چې هلته پاتې شي. مګر یوازې د دې لپاره چې د امریکا پر وړاندې د تهدیدونو مخنیوی وشي امریکا به د پاکستان سره د تروریزم پر ضد ځواک جوړولو په برخه کې مرسته ترسره کوي.5 نوموړي له دې وړاندې هم څرګنده کړې وه چې افغانستان به پاکستان ته سپاري چې د افغان ولس سخت غبرګونونه یې هم راوپارول.
له دې وړاندې بایډن په 2011 کال کې پخواني ولسمشر حامد کرزي ته ویلي وو چې پاکستان امریکا ته له افغانستان څخه 50 سلنه زیات ارزښت لري، او ښاغلي کرزي ته یې په ډاګه کړې وه چې ستاسو لپاره د بش طلایي دوره پای ته رسېدلې او طالبان ستاسو خپله او القاعده بیا زمونږ خپله ستونزه ده.6 د افغانستان په اړه د بایډن څرګندونې ښیي چې امریکا په افغانستان کې د یو ښه سیستم ملاتړې نه دی.
د افغانستان په اړه د جو بایډن پخوانیو څرګندونو ته په کتو ښایي د امنیت ښه کېدو په برخه کې افغان ولس د پام وړ پرمختګ و نه ویني، او د مرګ ژوبلې روانه لړۍ به په همدې بڼه دوام پیدا کړي.
بلخوا ولسمشر محمد اشرف غني د بایډن بریا مبارکۍ په لړ کې هیله څرګنده کړې چې امریکا او افغانستان به ستراتیژیکو همکاریو ته دوام ورکړي.

## بایډن او د دوحې تړون

د دوحې تړون چې د ښاغلي ټرمپ واکمنۍ پر مهال لاسلیک شو، د بایډن افغانستان په اړه څرګندونو ته په کتو ښایي د افغان ولس لپاره د یو ښه پرمختګ په توګه ثابت نه شي. افغان طالبانو بیا د امریکا ټاکنو په اړه ویلي وو چې دا بدلون د امریکا داخلي موضوع ده او له نوي امریکایي حکومت یې غوښتنه کړې چې د دوحې هوکړې ته ځکه ژمن پاتې شي چې یو شمېر کړۍ چې شخصي ګټې یې په روانه جګړه کې نغښتي دي دا جګړه اوږدول غواړي چې پایلې د امریکا لپاره په زیان دي.
بلخوا دویم معاون سرور دانش بیا ویلي چې د امریکا نوی حکومت دې د سولې هوکړې په اړه له سره غور وکړي ترڅو په طالبانو فشار راوړل شي چې تاوتریخوالي کچه کمه کړي. 7
د ښاغلي دانش خبرو وروسته هرات امنیتي کنفرانس ته د ولسمشر غني لومړي مرستیال امرالله صالح څرګنده کړې چې افغان حکومت د دوحې تړون ځکه په رسمیت نه پېژني چې د یاد تړون وروسته د

5 https://www.stripes.com/news/middle-east/biden-to-weigh-keeping-counterterror-force-in-afghanistan-analysts-say-1.651634

6 - د Directorate S Steve Coll کتاب 327 صفحه

7 https://www.washingtonpost.com/world/asia_pacific/afghanistan-peace-talks-biden/2020/11/09/713498e0-1de5-11eb-ad53-4c1fda49907d_story.html

نړیوالې ټولنې سره په همغږۍ افغان حکومت پینځه زره طالب بندیان خوشې کړل خو لا هم په هېواد کې تاوتریخوالی دوام لري.[8]

د طالبانو او افغان حکومت لخوا د بین الافغاني خبرو اترو پر مهال دغه ډول ځرګندونې امریکا ته په ډېره آسانۍ فرصت په لاس ورکوي چې هر وخت وغواړي سیمې کې خپلو ملي ګټو ته په کتو د دوحې تړون څخه ګټه پورته کړي.

امریکایي فوځي مشران بیا په دې باور دي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل چې د دوحې هوکړې له مخې یې ژمنه شوې، حالاتو ته په کتو به ترسره کېږي او که چېرته په سیمه کې د امریکا ګټو ته ګواښ متوجه وي هغوی کولی شي د ګواښونو له منځه وړلو لپاره په افغانستان کې پاتې شي.

د دوحې تړون لاسلیک کېدو وروسته په افغانستان کې د تاوتریخوالي کچه نوره هم مخ پر زیاتېدو ده. د امریکا د ملي امنیت پخوانی سلاکار جنرال مک مسټر بي بي سي سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي چې د ټرمپ په بهرني سیاست کې طالبانو سره د دوحې تړون لاسلیکول یوه تر ټولو ستره ناکامي وه، او د نوموړي پر آند امریکا طالبانو سره د افغان حکومت پر ضد لاس یو کړی دی.

بلخوا د امریکا د دفاع پخواني وزیر مارک اېسپر سپینې ماڼۍ ته لیک استولی او له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو اېستلو په تړاو یې خپله اندېښنه شریکه کړې ده، چې په بېړه دې امریکایي ځواکونه باید له افغانستان څخه و نه اېستل شي.

بلخوا د افغانستان په اړه د جو بایډن پخوانیو ځرګندونو ته په کتو داسې معلومېږي چې د نوموړي راتګ سره به د سولې روان بهیر بریالي کېدو سره به سپینه ماڼۍ ډېره دلچسپي و نه لري، او په دې ترتیب به ښایي د سولې روانې هڅې په یو ډول ټکنی شي. هغه داسې چې د امریکایي فوځي چارواکو وروستیو ځرګندونو ته په کتو ښایي بایډن د دوحې تړون په خلاف یو شمېر امریکایي سرتیري په افغانستان کې پاتې کړي. او دا چې په افغانستان او سیمه کې د ا مریکا ګټې په کوم ډول خوندي کېدلی شي په راتلونکې کې به هغو ته په کتو به دوی ګامونه پورته کوي، ځکه د امریکا ګټې هغوی ته د افغان سولې څخه زیات لومړیتوب لري.

نو پر همدې بنسټ افغان طالبانو او افغان حکومت ته پکار ده ترڅو افغان سوله چې د سیمې هېوادونو لپاره په یوې نوې جګړې بدله شوې په برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړي. د سولې په روانه لړۍ کې دواړه خواوې باید حتمي اوربند اعلان کړي ځکه د روانې جګړې د دواړو خواوو قربانیان یوازې افغانان دي. او که د جګړو شدت په همدې توګه دوام پیدا کړي نو دا به د سولې مخالفانو ته فرصت برابر کړي ترڅو د دوحې تړون چې د سولې په برخه کې یو ښه پرمختګ ګڼل کېده له منځه یوسي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[8] https://da.azadiradio.com/a/30947939.html

# حمله تروریستی بر پوهنتون کابل و اثرات آن بالای روند صلح



روز دوشنبه ۱۲ ماه عقرب سال ۱۳۹۹ سه مهاجم انتحاری وارد دانشگاه کابل شده و برای بیشتر از چهار ساعت با نیرو های امنیتی درگیر شدند. پلیس کابل طی گزارش بیان نمود که ۱۳ نفر بخاطر غفلت از وظیفه در حمله به دانشگاه کابل بازداشت کرده است. در این حمله ۲۲ نفر کشته و ۴۰ تن زخمی شده اند که اکثریت آن دانشجویان و محصلان دانشگاه کابل میباشند.۹

حمله مهاجمان مسلح به بزرگترین مرکز آکادمیک کشور با سابقه صد ساله، در عین حال که سخت تکان دهنده بود، سوال های زیادی در اذهان عامه مردم ایجاد کرده است. مردم میپرسند که این حمله با چی انگیزه ای صورت گرفته و چگونه مهاجمان با سلاح های سبک و سنگین شان توانسته اند خود را به دروازه پوهنتون برسانند و خلل در کجا است؟

## خاطره تلخ برای نسل دانشجویی کشور

حمله روز دوشنبه ۱۲عقرب به دانشگاه کابل وحشتی را میان حلقات علمی- تحصیلی و عامهء مردم ایجاد نموده است. این حادثه قلب های هموطنان را جریحه دار نموده و کشور را به یک سوگ واقعی کشانده است. حمله بر ساختمان آموزش های حقوقی پوهنتون که در آن روز محصلان دو صنف فاکولته های اداره و پالیسی عامه و یک

[9] https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/persian/afghanistan-5413032.amp

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

صنف حقوق و علوم سیاسی را در خود جا داده بود، صورت گرفت.

شکیلا (32 ساله) محصل سال چهارم پوهنزی پالیسی و اداره عامه پوهنتون کابل از جمله چند دانشجویی است که از محل حادثه جان سالم بدر برد. هر چند خودش زنده مانده است، ولی این حادثه او را شوکه کرده زیرا که هم صنفان خود را در مقابل چشمانش از دست داده است. او میگوید: «ساعت ۱۰:۴۶ صبح به وقت کابل صدای اولین شلیک گلوله شنیده شد، برق قطع شد درس تمام شده بود استاد خداحافظی کرده میخواست از صنف بیرون شود که تیر اندازی بیشتر شد. استاد از ما محصلان خواست به زمین بخوابند ولی تیر اندازی شدت گرفت و به صنف نارنجک پرتاپ شد. او میگوید که من و چند تن از دوستانم که در اخیر صنف و گوشه دیوار بودیم خود را به مردن زدیم ، روی ما چوکی ها افتاده بود، سر و صورت ما گوشت و خون هم صنفان ما پاشیده شده بود به همین دلیل فکر کردند که ما مرده ایم. فکر نمی کردم زنده بمانم چندین بار کلمه شهادت را خواندم، حالت غیر بیان داشتم فقط دعا میکردم، فضای کوچک صنف پر از دود و خون بود در همین حالت بودیم تا پس از چندین ساعت پولیس ها داخل شده و ما را بیرون کردند.»[10]

این خاطره تلخ یکی از ده ها محصلی بود که شاهد حادثه بوده و مرگ را در چند قدمی خود مشاهده کرده اند و تا ابد خاطرهء تلخ آنرا فراموش نخواهند کرد.

## مسوولیت حادثه

حمله به قشر جوان و تحصیل کرده جامعه که میخواهند آینده ای برای خود و کشور شان بسازند، باشنده گان کابل را سخت تکان داده و خشم عمومی را برانگیخته است. دشوار است بتوان درک کرد که چی کسی می تواند چنین کشتاری را با خونسردی انجام دهد.

داعش مسوولیت حمله را به دانشگاه  کابل را عهده گرفت و عکسی از دو مهاجم نقاب دار منتشر کرد که به گفته آنها مراسم فرغت قضات و بازرسان را هدف قرار داده بودند. این درحالیست که طالبان برائت شانرا از دست داشتن در حادثه اعلان نموده اند.

[10] https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/persian/afghanistan-5489488.amp

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

ولی امر الله صالح معاون اول ریاست جمهوری افغانستان، بیانیهٔ داعش را جعلی توصیف کرد و گفت سلاح های یافت شده در صحنه با عکسی که داعش منتشر کرده مطابقت ندارد. وی به پرچم طالبان که ظاهرا در محل حادثه پیدا شده به عنوان مدرک اشاره کرده می گوید که حمله کار طالبان است، نه داعش.

درین میان، نشر یک ویدیو موضوع را مبهم تر کرد؛ ویدیویی که به نظر می رسید از شبه نظامیان نقاب دار داعش باشد که دست داشتن در حمله را انکار می کردند و طالبان را مقصر می دانستند. بیشتر کارشناسان بر این نظر اند که این ویدیو جعلی است و هنوز مشخص نیست که اگر گروه مخالف دولت ( طالبان) می خواستند حمله را به خود منسوب نکنند، چرا پرچم شانرا با خود برده بودند؟ طالبان در بیانیه یی این حمله را محکوم کرده و دولت را متهم به حمایت از داعش کرد. ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان در تکذیبه‌ای با عصبانیت پرسیده: "چگونه ممکن است مهاجمان درگیر در جنگ وقت پیدا کردند تا روی دیوارها رسامی بکشند؟ و آوردن پرچم در محل حمله چه منظوری داشته؟ این در حالیست که تعدادی انتقاد گروه مخالف را بی معنا توصیف کرده و این حمله را مشابه به حمله سال ۲۰۱۶ دانشگاه آمریکا که ۱۳ کشته داشت عنوان می کنند.۱۱

در هر کشور مقوله تعلیم، تربیت و تحصیل بخصوص تحصیلات عالی و مسلکی جایگاه بسیار بالا دارد. انکشاف در ابعاد فرهنگی، سیاسی، اقتصادی و اجتماعی مرهون افراد تحصیل کرده آگاه، دانشمند و محقق می باشد. از طرفی عدم دقت در برنامه ریزی درسی و پلان گذاری تربیتی می تواند پیامد های منفی و غیر قابل جبران بر جای بگذارد، توسعه و پیشرفت هر کشور بدون تربیت کدر علمی ماهر، دانشمند و پژوهشگر آرزوی دست نیافتنی تلقی می گردد.

متأسفانه در افغانستان حمله بالای مراکز تحصیلی و آموزشی بی پیشینه نیست، در آخرین مورد، مرکز آموزشی کوثر دانش در غرب کابل هدف حمله انتحاری قرار گرفت، که طی آن دست کم ۲۴ نفر کشته و ۵۷ نفر دیگر زخمی شدند و همه قربانیان جوانان بودند.۱۲

---

11 https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/persian/afghanistan-54824697.amp

12 https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/persian/afghanistan-54776444.amp

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

# اثرات حادثه بر روند صلح

پروسه صلح افغانستان در این روزها نسبت به گذشته ها با شدت بیشتر روان است، علیرغم خوشبینی های موجود در پروسه صلح افغانستان بازهم نگرانی های جدی از آینده آن وجود دارد. با وجودیکه مردم افغانستان میدانند پروسهء صلح به زودی به نتیجه نخواهد رسید اما چون راه دیگری به جز خاتمهء جنگ پیش روی شان وجود ندارد، بازهم با امید فروان چشم به انتظار نتایج مثبت این روند میباشد.

اما تشدید جنگها طی هفته های اخیر و حملات مخالفین بر اهداف غیر نظامی؛ پروسه صلح را بیش تر از بیش به کندی مواجه میسازد، حادثهء کشتار محصلین در پوهنتون کابل آخرین نوعی ازین حملات بود که امید مردم برای تحقق صلح و آشتی ملی را به خاک یکسان ساخت.

در حالیکه مخالفان صلح در داخل و خارج کشور فعال شده اند، تا روند جاری مذاکرات میان حکومت افغانستان و حرکت طالبان را هر طوری شده سبوتاژ نمایند و دست های مرموزی در شهر های افغانستان حوادث خونین می آفرینند، عامهء مردم طالبان را دوام جنگ و برادر کشی در کشور بیشتر مقصر می دانند زیرا که تا حال حاضر نشده اند آتش بس بدون قید و شرط را بپذیرند.

یک روز پس از حادثهء خونبار پوهنتون کابل، دانشجویان معترض در مقابل در ورودی دانشگاه تجمع نموده علیه طالبان شعار های تندی سر دادند. آنها از حکومت افغانستان و تیم مذاکراتی در دوحه خواستند تا مذاکرات صلح را به صورت فوری قطع و به کشور برگردند و تازمانیکه طالبان آتش بس را نپذیرفته اند، دوباره به میز مذاکره حاضر نشوند.

با توجه به حادثهء وحشتناک پوهنتون کابل؛ مسؤلیت تیم های مذاکراتی سنگین تر می شود. مردم افغانستان از هیئت های طالبان و حکومت افغانستان در دوحه می خواهند تا هرچه زود تر مذاکرات صلح را به نتیجه برسانند. نباید اطراف مذاکره کننده وقت کشی کنند و منتظر بنشینند که نتائج انتخابات امریکا به کدام سمت پیش میرود و حکومت آیندهء امریکا چی معامله ای با روند صلح در کشور می نماید. صلح، ضرورت وقت و وجیبهء شرعی و ملی افغانها است و کلید صلح نیز در دست هیئت های مذاکره کننده قرار دارد. قبل ازینکه خون های بیشتری

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

ریخته شود و حوادث دردناک تری به وجود بیاید، تیم های مذاکراتی باید راه را بخاطر تحقق یک صلح دائمی و دوامدار در کشور هموار سازند. در غیر آن در پیشگاه خداوند متعال و در برابر مردم افغانستان سر افگنده و خجل خواهند بود.

---

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده چې د نويو څېړنو او پاليسيو تر مينځ داسې ارتباط قايم شي چې په پايله کې د هېواد په کچه ټولې پاليسۍ په مطالعې ولاړو اکاډيميکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS) Kabul